# خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ». "تر ټولو غوره ورځ چې لمر پرې راختلی د جمعې ورځ ده، په همدې ورځ آدم پيدا شوی او په همدې ورځ جنت ته داخل شوی او په همدې ورځ ترې راوېستل شو، او قيامت د جمعې له ورځې پرته نه راځي".
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې تر ټولو غوره ورځ چې لمر پرې راختلی د جمعې ورځ ده. د جمعې ورځې له ځانګړنو څخه دا دي چې: الله جل جلاله آدم عليه السلام په همدې ورځ پيدا کړ، جنت ته يې داخل کړ او په همدې ورځ يې بېرته ترې راوويست او ځمکې ته يې ښکته کړ، او قيامت هم د جمعې له ورځې پرته نه راځي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3711

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee